مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۳/۰۶/۰۱

او زه لا هم په انتظار کې یمه

نن مې لورکی لکه د نورو ورځو
یوځلې بیا ځان پر کوټه قلف کړی
دا په دې دوه کالو کې
په هر سهار سبا ناري پر مهال
زموږ تر خوا نه راځي
لومړی خو زه یې پاڅوم او وایم
گرانې سهار دی لمونځ ناوخته نه کړې
دا لا نور هم خپل گلابي مخ تور ویښتانو تر شا
د خوب کمپله کې له مانه پټ کړي
او سلگې یې ما بې واره کاندې
زه او پلار جان یې تر خپل وس دلاسانه ورکړو
خو هر سهار زمو همدغه حال وی
زموږ دویمه لور چې
د ښوونځي پنځم ټولگي ته درومي
هغه په ترپ او تروپ کې
په خوشالۍ سبا نارې وکړي
او بیا په منډو منډو
تر ښوونځي لاړه شي
خو زما زغم هم نور
په ختمیدلو دی
د لور سلگۍ مې
نورې لیدلې نه شم
زه په ستنه ترې ولاړم
اوس یې د پلار وار وو
هغه تر مټ ونیوه
ویل راځه بچې مې
ما او تا یو ځاي کښینو
پرته له تا سباناري موږ ته هیڅ خوند نه لري
خو زموږ لور د پریښودلو نه وه
نور یې د صبر په ججوره کې هیڅ زغم نه وو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لومړي يې وژړل او وژړل
ويل يې داسې:
زه په ټولګي کې مې اول نمره وم
ما خو د ځان له پاره
رنګين خيالونه لرل
د شپې په خوب کې به مې
توره تخته او تباشير ليده
داسې قانون خو ګوره
ټوله نړۍ کې نه شته
په کوم هېواد کومه ټولنه کې نن
پر تعليم او زده کړه
کوم چا بنديز ليدلې
دغه طالب چارواکي
ګواکې زړه نه لري
دوي په لوی لاس
د جينکو دغه ځوان نسل
د جهالت پر تيارو ټيل وهي
زه به اوس تللم دولسم ټولګي ته
د دوي راتګ سره تيارې خپرې شوی
چې يې پر موږ خوارانو
د ښوونځي دروازې
ټولې له يو مخه راوتړلې
لکه چې دوي د تمدن او پرمختګ
پر معيار نه پوهيږي
دوي د ښوونې او روزنې
چاپيريال نه موږه لرې کړلو
تاسې خو وينئ چې دا دوه کاله
موږ ښوونځي ته نه ځو
زما وړه خورکه
دوه کاله مخکې وه دريم ټولګي کې
اوس ځې پنځم ټولګي ته
زما د زده کړې دوره
په بيړه درومې له ما منډې وهې
او زه لا هم په انتظار کې يمه
په انتظار کې يمه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ